# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۱۱مه | دویم کال| ۳۳۳مه ګڼه


## ټاکنیزې ډلې: د ولسمشر ټیم هڅه کوي چې د اصلاحاتو تر نامه لاندې ټاکنې انحصار کړي





په افغانستان کې د طالبانو دفتر، شونتیا او سیاسي استفاده
۲ مخ

د افغانستان اوسنی پېچلی حالت او د احتمالي سولې لپاره د ولس هیلې
۲ مخ

دغه شیان په جاپان کې تېروتنه ګڼل کېږي
۵ مخ


## راپورونه: خلیلزاد د افغان سولې لپاره خپل پنځم او مهم سفر پیلوي

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد د افغان سولې په خاطر بل مهم سفر پیلوي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او خپله خلیلزاد په دې اړه تر اوسه څه نه دي ویلي، خو د پاکستان ټوډې ورځپاڼې راپور ورکړی، چې خلیلزاد دا سفر له طالبانو سره د مهمو موضوعاتو پر سر، له خبرو مخکې له اسلام اباده پیلوي.

خبرپاڼې د دغو سرچینو له قوله چې نوم یې نه دی اخیستی، دا سفر د سولې له هوکړې مخکې مهم سفر بللی او ویلي یې دي چې دا سفر به د فبرورۍ له شلمې مخکې تر سره شي.

ځینو پاکستاني رسنیو د خلیلزاد دغه سفر ته د هغه هېواد د بهرنیو چارو په وزارت کې له ځانګړو تیاریو راپور ورکړی او ویلي یې دي چې د سفر وروستی تاریخ به په ځو ورځو کې اعلان شي.

دا به سیمې ته د افغان سولې په تړاو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي پنځم سفر وي.

خلیلزاد له دې وړاندې هم د هر سفر په ترڅ کې د افغانستان او د سیمې د ځینو نورو هېوادونو په ګډون، پاکستان ته تللی و.

نوموړي په تېره جنوری میاشت کې هم کابل، اسلام اباد، نوي ډیلي او چین ته سفرونه کړي وو او د سفر په پای کې یې له طالب استازو سره د شپږو ورځو لپاره په قطر کې لیده کاته درلودل.

ویل کېږي چې په دغو خبرو کې ټینګار په دې شوی چې د فبرورۍ په ۲۵مه یو ځل بیا دواړه لوري سره جرګه شي.

## هلمندیان: ړندې بمبارۍ نورې راته د منلو نه دي




۵ مخ


## هېواد



۴ مخ


## کریباتي

د دغه هېواد ډېر خلک د کرنې او کبانو د نیونې په برخو کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۱ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دغه سکټور څخه لاس ته راځي.



## کرنې وزارت: په څلورو ولایتونو کې ۴۵ ممیز خونې جوړې شوې دي



د کرنې وزارت چارواکو ویلي، په څلورو شمالي ولایتونو کې د ممیزو ۴۵ عصري خونې جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

د یاد وزارت له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې د دغو ممیزخونو د جوړولو چارې په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې د دغه وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي برنامې له خوا پیل شوې وې، چې اوس یې کارونه بشپړ شوي او پر کار یې پیل کړی دی.

سرچینې زیاته کړې، دغه ممیزخونې چې هر یوه یې لس متره اوږدوالی، پنځه متره سور او پنځه متره لوړوالی لري، په یوه وخت کې له ۵ تر ۷ ټنو انګورو ځایولو وړتیا لري.

د خبرپاڼې په حواله، د دغو ممیزخونو له ډلې لس په سرپل، ۱۸ په فاریاب، ۱۰ په جوزجان او ۷ نورې په بلخ کې جوړې شوې دي.

## نهادهای ناظر: کمیسیون‌های انتخاباتی، می‌کوشند بی‌پروایی‌های شان را توجیه کنند



با گذشت نزدیک به چهارماه از انتخابات ولسی جرگه، هنوز هم نتایج نهایی این انتخابات در پانزده ولایت کشور، اعلام نشده‌است. این در حالی است که روز شنبه، شماری از نامزدان برندهٔ انتخابات ولسی جرگه از کمیسیون مستقل انتخابات اعتبار نامه‌های شان را گرفتند. مراسمی که در آن، سران کمیسیون‌های مستقل انتخاباتی، آنچه را که قربانی‌ها و از خودگذری‌های شان در پرداختن به انتخابات ولسی جرگه می‌دانند، به رخ می کشند. عبدالبدیع صیاد، رئیس کمیسیون مستقل انتخابات گفته است: «من از کسانی گله دارم که آنان، با معیارها و سطحی در باره کمیسیون مستقل انتخابات فکر می‌کنند که گویا در اروپا است و دیگر تمام نهادهای دولتی در افغانستان است. در کدام اداره دولتی مشکلات نیست؟»

عبدالعزیز آریایی، رئیس کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی نیز می‌افزوده است: «هر آنچه که در قبال کمیسیون‌ها گفته می‌شود، جز توطئه علیه همین ملت و مشروعیت نظام چیز دیگری بوده نمی‌تواند».

اما نهادهای ناظر بر انتخابات بدین باورند که کمیسیون‌های انتخاباتی، می‌کوشند تا از راه‌های گوناگون، کم کاری‌ها و بی‌پروایی‌های شان را در برابر روند انتخابات، توجیه کنند.

مروه امینی، سخن‌گوی بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان گفته است: «نتایج ابتدایی به گونه تدریجی اعلام می‌شود، نتایج نهایی به گونه تدریجی وبسیار در مدت خیلی طولانی اعلام می‌شود و حالا اعتبارنامه هم به گونهٔ تدریجی برای نامزدانی که کامیاب شده اند در لیست نهایی داده می‌شود. خلاف قانون، از آغاز پروسه، پیش رفته‌اند.»


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Shigal
ENGLISH ACADEMY
ADMISSION OPEN
Dehbori, Second street behind Dehbori Park, 3rd district, Kabul, Afghanistan.
0784189282

## دریځ

### په افغانستان کې د طالبانو دفتر، شونتیا او سیاسي استفاده

ولسمشر غني وایي، چمتو دی چې وسله والو طالبانو ته په کابل، کندهار یا ننگرهار کې رسمي دفتر ورکړي او ساتنه یې وکړي. ولسمشر دا خبرې پرون د شینوارو په غني خیلو ولسوالۍ کې کړې دي. نوموړي زیاته کړې: «موږ سوله په مکه معظمه کې غواړو. هغه خوږه ده او که مسکو کې؟ «نوموړي ویلي، سوله راتلونکې ده او په دې برخه کې د خپل سر قرباني کولو ته هم چمتو دی، خو د ولسمشرۍ څوکۍ یې ولسي گڼلې او ویلې یې دي چې په دې اړه به پرېکړه ولس کوي.

ولسمشر په پرونیو خبرو کې یو ځل بیا هڅه وکړه چې د سولې د رواني پروسې پر وړاندې خپل مخالفت په ډاگه کړي. نوموړي په واضحو ټکو د مسکو د غونډې مخالفت وکړ او پر هغه څه یې ټینگار وکړ، چې وسله وال مخالفین یې نه مني. ولسمشر په مکه مکرمه کې د عالمانو غونډې ته اشاره وکړه، خو ټول پوهېږي چې په مکه مکرمه کې جوړه شوې غونډه د سولې نه وه، بلکې د حکومت په گټه د طالبانو د جگړې پر ضد فتوا وه. د مکې مکرمې په غونډه کې طالبان نه وو او حکومت پکې گټه وکړه، خو د مسکو په غونډه کې بیا حکومت نه و او طالبانو پکې گټه وکړه. اوس دا دوه موازي کرښې دي چې له یو بل سره نه یو ځای کېږي. کله چې حکومت او طالبان درک کوي چې دا موازي کرښې دي، نو بیا د سولې خبرې یوازې د خلکو په سترگو کې د خاورې شیندلو لپاره کوي.

ولسمشر په کابل، ننگرهار او کندهار کې طالبانو ته د دفتر خبره کوي، خو ښه پوهېږي چې نه طالبان دا وړاندیز مني او نه هم دا چاره عملي ده. دا خبرې یوازې د دې لپاره کوي چې ځان د سولې ملاتړی وښیي. کله چې طالبان حکومت په رسمیت نه پېژني او خبرې ورسره نه کوي، نو هغوی به څنگه حاضر شي چې د حکومت تر کنټرول لاندې سیمو کې دفتر پرانیزي او امنیت یې هم حکومت ته وسپاري!؟ طالبان پنځوس سلنه افغانستان تر خپل کنټرول لاندې لري، ولسمشر دا هم ویلی شي چې طالبان دې په هلمند، زابل، اروزگان او یا د ننگرهار په هغو سیمو کې دفتر پرانیزي چې د دوی تر کنټرول لاندې دي او حکومت به پر دغه دفتر برید نه کوي. ښکاره ده چې ولسمشر دا کار نه کوي، ځکه په دغه کار سره هغه د طالبانو حاکمیت مني. دا چاره کټ مټ داسې ده لکه طالبان چې د حکومت تر کنټرول لاندې سیمو کې دفتر ومني. پر همدې اساس په کندهار، ننگرهار او کابل کې دفتر عملي نه دی او دا کار یوازې د خلکو په سترگو کې د خاورې شیندلو لپاره کېږي.

له بده مرغه ولسمشر له یوه اړخه د سولې په اړه له خلکو ډېر څه پټوي او له بله اړخه غواړي هغه پروسه تخریب کړي، چې خلک ورته هیله من دي. که د سولې روانه پروسه ناسمه وي، دسیسه روانه وي او زموږ پکې خیر نه وي، نو ولسمشر ته پکار ده چې مخه یې ونیسي او ولس ته هم هر څه روښانه کړي. که د سولې پروسه سمه وي، نو ولسمشر دې د خپلې څوکۍ او د واک د تدوام په خاطر د دې چارې مخالفت نه کوي او پرې دې ږدي چې د هېواد بچیان هم د ولسمشر د بچیانو په شان په امن او سوله کې ژوند وکړي. اوس نه خلکو ته پوره معلومات ورکوي او نه هم پرېږدي چې د سولې خبرې بریالۍ شي.

# د افغانستان اوسنی پېچلی حالت او د احتمالي سولې لپاره د ولس هیلې

لیکنه: سباوون حقیار / لومړۍ برخه

په دغه لیکنه کې تر ډېره بریده هڅه کوم چې په اوسنیو شرایطوکې چې په افغانستان کې څه روان دي، د افغانستان کورنی او بهرنی وضعیت او د گاونډیو هېوادونو ملي ارزښتونه او گټې د افغانستان په سوله او جگړه کې او همدارنگه بین الافغاني مذاکرات اصلاً څه ته وایي او څرنگه را پیدا شوي، په دې اړه یوڅه رڼاواچوم .

**د افغانستان اوسنی وضعیت:**

په افغانستان کې اوسنی وضعیت ډېر پېچلی دی او تر نورو وختونو اوس په حساس حالت کې روان دی، گران هېواد افغانستان له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې په کورنیو جگړو کې ښکېل دی، لسگونو زرو بې گناه ولسي وگړو د ښځو، نارینهوو او ماشومانو په گډون، خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی دی. ځوانان او روڼ اندي مو د خلقي، پرچمي، مجاهد، دولتي چارواکي، طالب، جاسوس او کفر په نومونو له منځه ولاړل.

معارف مو خراب شو، پخواني تحصیل لرونکي ځوانان خو مو یا له منځه ولاړه او یا هم بهرنیو هېوادنو ته مهاجر شول.

له یوې خوا فساد، له بلې خوا د خلکو بې باوري پر حکومت او ډیموکراسۍ نوره هم په ډېرېدو ده. څوک حق ته حق نه شي ویلی، که یې ووایي یا یې دنده له لاسه ځي یا خو په یو نامه او بل نامه ذلیل او بدنامه کېږي.

په تېرو څو میاشتو کې چې د ولسي جرگې لپاره کومې ټاکنې ترسره شوې، د ډیموکراسۍ په تمثیل کې هغه بې باوري یې رامنځته کړه، چې د خلکو د باور د بېرته لاسته راړلو لپاره باید له صفر څخه کار پیل او اړتیا ده چې دا تشه ډکه شي.

د سیاسي گوندونو ترمنځ اختلاف، د افغان ولسمشر د دویمې دورې لپاره زیات تاکید او د طالبانو ضد حکومتي ټاکنې، ترخو او جدي خبرو اوکنفرانسونو وضعیت نور هم پېچلی کړی دی. له بلې خوا د طالبانو د سولې خبرې چې ټولې د (اې ایس ای) تر چتر او مشورو لاندې په بېلابېلو هېوادونو کې روانې دي. کېدای شي چې د دغو هېوادونو د هلوځلو ترمنځ کومه همغږي وجود ونه لري، خو د سولې پر وړاندې یو ډول خنډونه پیداکولی شي، څنگه چې په تېرو وختونو کې تجربه شوي هم دي.

د سولې شورا تر چتر لاندې مختلفې ډرامې او کارونه مخته ولاړل، چې حتی خلکو په ترکیه، دوبۍ او لندن کې کورنه پرې اخیستل. د سولې شورا نه، بلکې سم یو ډول د فساد پروژه وه چې په دې وروستیو وختونو کې یې دفترونه په ولایتونو کې وتړل شول چې دا د فساد پر ضد یو نیک او ښه اقدام و.

د سولې هلې ځلې له اوس څخه نه دي پیل شوې، د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي ډېرې هلې ځلې وکړې، خو د (ای ایس ای) له خوا د سولې پروسه د ملا محمدعمر د مرگ له اعلان سره وځنډېده، په داسې حال کې چې ملاعمر له وخته لا خپل ژوند له لاسه ورکړی و، دا چې څنکه یې ژوند له لاسه ورکړ، دلته پردې بحث نه کوو.

وروسته له هغه چې کله د دویم ځل لپاره د سولې خبرې پیل اوبیا تر ډېره حده مخته ولاړې، په دې وخت کې تصادف نه، بلکې قصدي او د ترتیب شوي پلان له مخې د ملا محمدعمر ځای ناستی ملا اخترمحمد منصور هم ووژل شو، چې شیخ مولوي هیبت الله یې پر ځای کېناست او د سولې پروسه سبوتاژ شوه او له هغه وروسته به دکویټې او پېښور شوراگانو هغه ټول کسان په یو نامه او بل نامه د ( ای ایس ای) له خوا نیول کېدل، کوم چې سولې ته به ژمن وو.

راځو دا نېږدې وختونو ته، د تېر کوچني اختر په ورځو کې کله چې د افغان حکومت اوطالبانو ترمنځ درې ورځنی اوربند اعلان شو، نوې هیلې را ژوندۍ شوې، د خلکو په زړونو کې یو ځل بیا دا احساس پیدا شو، چې سوله به راځي، افغانستان به جوړېږي حتی طالبانو اوحکومتي عسکرو یو بل ته غېږې ورکړې، چې وروسته له اوربند څخه ډېر هغه طالبان چې په اوربند کې یې ولس او حکومتي عسکرو ته غاړې ورکړې وې او یو بل یې پر مخ ښکل کړي وو، یا خو گوښه شول، یا تبدیل او یا هم تعزیزي مجازات ورکړل شول. که دا ډول کړنې تحلیل کړو، نو دې پایلې ته رسېږو، چې دا اوربند طالبانو نه، بلکې د پاکستان (ای ایس ای) یا په بله اصطلاح ایسټابلیشمینټ کړی و، څو افغان ولس او حکومت ته وښیي چې که دوی وغواړي په ضرب دځو ساعتونو کې په ټول افغانستان کې به ډز نه وي. د دغه هدف شاته د دوی هغه غوښتنې پر افغانانو باندې منل دي، کومې چې پنجاب یې له ۱۹۴۷ ز کال راهیسې خوب ویني.

راځو امریکا ته: د امریکا متحده ایالاتونو مبارزه له تېرو اوولسو کلونو راهیسې د تروریزم پر ضد پیل شوې ده، چې د براون پوهنتون د اټکل په اساس، د امریکا متحده ایالاتونو نظامي کلنی لگښت چې په افغانستان او عراق کې یې کوي، د ۲۰۱۹ ز کال تر پایه به ۵.۹ تریلیونه ډالرو ته پورته شي.

د سپټمبر له یوولسمې څخه تر ۲.۷ میلیونو زیات امریکایان له تروریزم سره مبارزه کې وجنگېدل او تر پنځلس زرو زیاتو امریکایانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، وینې یې توی شوې دي او ښېخې زیاتې پیسې یې مصرف شوې دي، مگر بیا هم په افغانستان کې امینت رانه غی او هغه پیسې چې د افغانستان د بیارغونې لپار راغلې وې، د دولتي فاسدو چارواکو شخصي جیبونو ته ولاړې.

د امریکا د متحده ایالاتو ولس په وار وار غوښتنې کړې دي، چې نور هغې جگړې ته د پای ټکی کېږدي، کوم چې د امریکا لپاره یې تر گټو زیانونه ډېر دي، یعنې د دوی د هېواد ځوانان له وطن څخه ډېر لرې جنگېږي او مړه کېږي، د ویلو خو لا دا ده چې د ولسمشر ټرمپ د بریا یو راز دا و چې د بریا په صورت کې به امریکایي پوځیان له افغانستان او سوریې څخه باسي. د ولسمشر ټرمپ تر ډېره بریده پورې هلې ځلې له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو وتل دي، مگر په یو وار نه، بلکې په تدریجي ډول سره چې کېدای شي تر ۱۸ میاشتو پورې دا سلسله جریان ومومي او د افغانستان سیاسي حالت تر جدي ځار وروسته د وتلو پروسه پای ته ورسوي.

ولسمشر ټرمپ د افغانستان او عراق لپاره پخوانی سفیر زلمی خلیلزاد د خپل ځانگړي استازي په توگه وگوماره چې د سولې په روانو خبرو کې به د نوموړي په مشرۍ امریکایي پلاوی له طالبانو سره بېلابېلې غونډې جوړې کړي چې له تېرو څو میاشتو راهیسې دا پروسه روانه ده، په پایله کې یې خلیلزاد پر خپل ټوېټر داسې لیکلي دي: «موږ له تروریزم سره د مبارزې او د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه د پام وړ پرمختگ کړی دی. دا زموږ خبرواترو ته د پای ټکې اېښودلو ځرگندونه نه کوي. موږ تر اوسه پورې د یادو مسایلو په اړه وروستۍ موافقه نه ده کړې او لاهم د نورو مهمو مسایلو، لکه د افغانانو خپل منځي خبرو اترو او د بشپړ اوربند لپاره کار کولو ته اړتیا لیدل کېږي.»

د یادونې ده چې د روان کال د فبرورۍ پر پنځمه ولسمشر ټرمپ خپل ملت ته په وینا کې وویل، ستر قومونه نه ختمېدونکي جنگونه نه کوي او زیاته یې کړه چې ما په افغانستان کې د سیاسي جوړجاړي لپاره مذاکرات گړندي کړې دي، همدارنگه یې د سولې خبرې گټورې وبللې او په اخیر کې یې وویل چې دا لا نه ده معلومه چې موږ موافقې ته سره ورسېږو او که نه، خو موږ په دې پوهېږو چې له دوو لسیزو جنگ څخه وروسته اوس د سولې لپاره کوښښونو ته اړتیا ده.

له بلې خوا د خلیلزاد له بېلابېلو غونډو څخه وروسته د بین الافغاني مذاکراتو مسله راپورته شوه، دا وورسته له هغه چې طالبانو له افغان حکومت سره د سولې خبرو څخه ډډه وکړه. اوس راځو دېته چې بین الافغاني مذاکرات څه ته وایي؟ د طالبانو تحریک او افغان حکومت ترمنځ خبرو اترو ته ولې موږ بین الافغاني مذاکرت نه شو ویلی؟ بین الافغاني مذاکرات دېته وایي چې بېلابېلې وتلې څېرې او د سیاسي گوندونو مشران له طالبانو سره د افغانستان موجوده اوږدې جگړې او نورو اختلافي مواردو ته د یوې معقولې حللارې د پیدا کېدو په اړه سره خبرې وکړي، څو دا ناورین ختم شي.

له دغو مذاکراتو څخه موخه دا ده چې د سولې خبرې ډېرې ژورې او عمقې دي، ډېر فصاحت او بلاغت ته اړتیا لري، سوله دومره ژر هم نه شي راتلای لکه څنگه چې موږ او تاسې ورته فکر کوو او افغان ولس ورته بې صبره سترگې په لاره دی. د سولې شاته مختلف شرطونه شته چې هر گاونډی هېواد خپلې ملي گټې او ارزښتونه په پام کې نیسي. دا هم ممکنه نه ده چې د څو غونډو په ترڅ کې یوې ۴۰ کلنې جگړې ته د حللاره پیدا او یا هم د پای ټکی کېښودل شي. دا د افغانانو لپاره ښه وخت دی چې د سولې په ژورو خبرو ځان خبر کړي. تر ټولو مهمو موضوعاتو ته راځو، هغه دا چې د گاونډیو هېوادونو گټې او ارزښتونه د افغانستان په سوله کې څه دي؟ ولې ایران جلا، چین جلا، پاکستان جلا او روسیه جلا ښکېل دي او سعودي خو د سولې په پروسه کې د قطر منځگړیتوب نه مني. د سعودي موضوع ډېر پراخ بحث ته اړتیا لري، دلته یوازې د گاونډیو هېوادونو په اړه خبرې کوو.

**دوام لري...**

## چخانسوري: د سولې په اړه د هرې همغږې هڅې ملاتړ کوو

ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي، د سولې په بهیر کې ټول اړخونه او ښکېلې خواوې باید د حکومت د سولې د طرحې په چوکاټ کې مخته ولاړ شي او له یادې طرحې ملاتړ وکړي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند هارون چخانسوري ازادي راډیو ته ویلي، د سولې لپاره روانې هڅې هغه مهال عملي پایلې لرلی شي، چې له افغان حکومت سره په همغږۍ ترسره شي او طالبان له حکومت سره د خبرو مېز ته کېني.

نوموړي ویلي: «د سولې لپاره چې کومې هڅې روانې دي، ټولې یې نه، خو اکثریت یې د افغان حکومت د سولې د پلان په چوکاټ کې دي. د خلیلزاد هڅې له حکومت سره په همغږۍ دي او په گډه مخته ځي، نور د افغانستان سیاستوال او هر افغان چې وي، دوی حق لري چې د سولې په اړه بحث او خبرې وکړي، خو نتیجه یې هغه وخت مثبته او عملي بڼه



خپلولی شي چې له حکومت سره مخامخ خبرې پیل شي او هلته په بنسټیزو مسایلو بحث او هوکړې وشي.»

نوموړي ویلي، د افغان حکومت له خوا چې د سولې لپاره کومه نقشه او طرحه جوړه شوې، په هغې کې د ټولو خواوو او ښکېلو اړخونو رول واضح شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې پخوانیو افغان چارواکو، د ملي شورا غړو او سیاستوالو په مسکو کې له طالب استازو سره دوه ورځنۍ ناسته وکړه چې افغان حکومت پکې برخه نه لرله.

د دې ناستې له پای ته رسېدو وروسته، له خبریالانو سره په خبرو کې پخواني ولسمشر حامد کرزي دا خبرې ډېرې قناعت بښونکې وبللې او د طالبانو د لس کسیز پلاوي مشر شیرمحمدعباس ستانکزي هم په مسکو کې خبریالانو ته ویلي چې له افغان سیاستوالو سره دا خبرې ډېرې بریالۍ وې.

د مسکو د دوه ورځنۍ غونډې په پای کې، گډونوالو یو نهه ماده ییز گډ پرېکړه لیک هم خپور کړ، چې پکې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او د ملگرو ملتونو له تور لېسته د طالبان مشرانو د نومونو پر ایستلو ټینگار شوی دی.

خو افغان حکومت بیا دغه ناسته د سولې لپاره سمه هڅه نه ده بللې او ویلي یې دي چې دا شان ناستې د افغانستان د امنیت او سولې لپاره گټه نه کوي.

په ورته وخت کې د سولې عالي شورا بیا ویلي، د سولې په نوم هر هغه حرکت چې د ملي گټو خلاف وي، دوی ته د منلو نه دی.

د دې شورا ویاند سید احسان طاهري ویلي: «هر هغه نظر او حرکت چې له موږ سره همغږی دی او د سولې بهیر پیاوړی کوي، موږ یې ملاتړ کوو، پرته له دې هر هغه حرکت چې ملي یووالي ته زیان رسوي. د سولې د عالي شورا له خوا مردود شمېرل کېږي او موږ ورسره له هر ډول مرستې ډډه کوو.»

# ټاکنيزې ډلې: د ولسمشر ټيم هڅه کوي چې د اصلاحاتو تر نامه لاندې ټاکنې انحصار کړي



انتخاباتي ټکټونه او د ولسمشريزو ټاکنو د نوماندانو ګډه شورا وايي، د ولسمشر ټيم د اصلاحاتو په نامه هڅه کوي چې ټاکنې انحصار کړي. د نوماندانو د ګډو همکاريو شورا وايي، د ولسمشر غني او د ولسمشريزو ټاکنو د نوماندانو ترمنځ د ټاکنو په قانون کې د اصلاحاتو راوستو په اړه خبرې بُن‌بست ته رسېدلې دي. حکومت د انتخاباتو قانون د تعديل له طرحې سره د سياسي احزابو تر مخالفت وروسته، يوه ګډه تخنيکي کمېټه جوړه کړې، خو د دې کمېټې لومړنۍ ناسته هم بې پايلې پای ته رسېدلې ده.

د دې ګډې کمېټې غړو ويلي چې له حکومت سره تر اوسه د تعديل د اصلاح پر طرحه هوکړې ته نه دي رسېدلي او په دې برخه کې ډېر مخالفتونه را ولاړ شوي دي. د دوی په خبره، حکومت هڅه کوي چې خپل اصلاحات پر نوماندانو او يا ګډه کمېټه ومني، خو دمګړۍ د حکومت او نوماندانو ترمنځ خبرې بې پايلې او مخالفتونه پر خپل ځای دي.

د دوی په خبره، د قانون د تعديل په طرحه کې د کمېسيونونو د رييسانو، کمېشنرانو او د دارالانشا د رييسانو د غوراوي په تړاو وړانديز شوی ميکانېزم د غوراوي او انتخاب ټول صلاحيتونه په ولسمشر پورې محدودوي، نو ځکه يې دوی مخالف دي. د نوماندانو د ګډې همکارۍ شورا وايي، ورمه شپه تخنيکي مجلس بې پايلې پای ته رسېدلی دی.

د دوی په خبره، حکومت ټينګار کوي چې د غوراوي کمېټه حذف شي، خو نوماندان له حکومت سره دغه کار نه مني. د سرچينې په خبره، نوماندان وايي چې د غوراوي کمېټه دې پر خپل ځای وي، ځکه په دې توګه به ولسمشر په يوازې ځان، د کسانو په ټاکلو کې د پوره واک څښتن نه وي. د دوی په خبره، ولسمشر د ټاکنو يو نوماند دی، نو په دې برخه کې په يوازې ځان پرېکړه نه شي کولی.

د نوې طرحې له مخې چې سياسي احزابو تېره جمعه رد کړې ده، سياسي ګوندونه، مدني ټولنه او د ولسمشرۍ ماڼۍ دفتر هر يو د پنځلسو کسانو نوملړ ولسمشر ته سپاري او ولسمشر به د سترې محکمې، لويې څارنوالۍ، د اساسي قانون د څار کمېټې، د ملي شورا د دواړو جرګو د مشرانو او بشري حقونو د کمېسيون د رييس او د سياسي احزابو له مشرانو سره په مشورې، له دغه نوملړه اووه کسان غوره کوي، خو که سياسي احزب او د مدني ټولنې ولسمشر ته په اوو ورځو کې په شرايطو برابر کسان معرفي نه کړي، ولسمشر به د کمېسيون غړي پخپله غوره کوي.

بلخوا انتخاباتي ټکټونه بيا وايي، د ولسمشر انتخاباتي ډله غواړي د ټاکنيزو اصلاحاتو تر نامه لاندې قوانين او هر څه پخپله ګټه وکاروي. د ډاکټر عبدالله عبدالله په انتخاباتي ټکټ کې د هغه لومړی مرستيال اسدالله سعادتي وايي، هغه اصلاحات چې ولسمشر پخپله خوښه راولي، دوی ته د منلو وړ نه دي.

نوموړی وايي: «ولسمشر هڅه کوي د اصلاحاتو تر نامه لاندې قوانين پخپله ګټه وکاروي. دلته انتخاباتي سيالۍ دي او ولسمشر هم د دې سياليو يو لوری دی، نو په خپل سر په قوانينو کې تعديل نه شي راوستلی.»

د حنيف اتمر د انتخاباتي ټيم وياند محمد واعظي هم وايي، د انتخاباتي قانون په تعديل کې د ټولو نوماندانو اجماع او د نظر يووالی شرط دی. د ده په خبره، حکومت بايد قوانين په دې حساسو شرايطو کې د ځان په ګټه تعديل نه کړي.

په ورته وخت کې د حقوقي مسايلو پوهان او شنونکي بيا وايي چې د کمېسيونونو د رييسانو او کمشنرانو په ټاکلو کې د شفافيت په هدف، په قانون کې د غوراوي کمېټې موجوديت مهم دی. حقوقي کارپوه سبحان مصباح وايي: «د نوي تعديل له مخې د انتخاباتو پروسه د ولسمشر په انحصار کې راځي، چې هغه پخپله هم د ولسمشريزو ټاکنو نوماند دی. له همدې امله د غوراوي کمېټې موجوديت مهم دی.»

د ټاکنو قوانين د تعديل او په ټاکنيز نظام کې د اصلاحاتو پر سر نانډرۍ داسې مهال دي چې ولسمشرۍ ماڼۍ وايي، د قانون د تعديل په اړه اجماع رامنځ ته شوې ده او ډېر ژر به حکومت په دې اړه خپل اقدامات پيل کړي. تر دې وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسيون رييس عبدالبديع صياد بيا ويلي وو، چې هېڅوک په ټاکنيزو قوانينو کې پخپل سر او د ولس له خوښې پرته تغيرات نه شي راوستلی.

## حکومت: د طالبانو تشدد د بهرنيو ځواکونو د پاتې کېدو لامل شوی دی



افغان حکومت ويلي، د وسله‌والو طالبانو تشدد د بهرنيو ځواکونو پاتې کېدو ته زمينه برابره کړې ده.

د ولسمشر وياند هارون چخانسوري ويلي، په ۲۰۱۴ ز کال کې بايد د بهرنيو ځواکونو شمېر صفر ته راکم شوی وای، خو د وسله‌والو طالبانو د تشدد له امله نړيوال مجبور شول چې دا پرېکړه بدله کړي. نوموړي ويلي: «موږ غواړو خود کفا شو، جګړه پای ته ورسېږي، سوله ټينګه شي او بهرني عسکر په افغانستان کې نه وي».

نوموړي ويلي چې افغان حکومت پر يوه طرحه کار کوي چې پر اساس يې په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو شمېر حد اقل ته ورسېږي. د نوموړي په خبره، وسله‌وال طالبان کولای شي چې له قيد او شرط پرته د افغانستان له حکومت سره خبرې وکړي.

چخانسوري زياته کړې: «طالبان بايد واضح راشي، د افغانستان له حکومت سره مذاکرات شروع کړي، هر هغه تشويش چې دوی لري يا پر کومه موضوع چې دوی غواړي خبرې وکړي، د افغانستان حکومت واضح نقشه د لارې ورته لري».

دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد د جمعې په ماښام، د واشنګټن د سولې په انسټېټيوټ کې ويلي چې له طالبانو سره موافقه په اساسي ډول د سولې لپاره غواړي، نه د دې لپاره چې د خپلو عسکرو د ايستلو زمينه برابره کړي.

خليلزاد د افغانستان را روانې ولسمشريزې ټاکنې مهمې بللې او ويلي يې دي، هيله لري چې له طالبانو سره د سولې موافقه تر ټاکنو مخکې وشي، څو طالبان هم په دې پروسه کې شامل شي.

نوموړي زياته کړې: «د افغانستان لپاره به ښه وي چې تر جولای مخکې «چې انتخابات دي» د سولې موافقه وشي او طالبان هم دې پروسې ته راولو، د سولې موافقه به د سوله ييزو انتخاباتو زمينه هم برابره کړي. زما په فکر تر انتخاباتو د سولې موافقې ته کافي وخت لرو، خو حتی که موافقه ونه شي، انتخابات به کېږي او موږ به هر هغه هڅه کوو چې د معتبرو ټاکنو سره مرسته وکړي.»

## هلمنديان: ړندې بمبارۍ نورې راته د منلو نه دي

د هلمند په مرکز لښکرګاه ښار کې سلګونه کسان راټول شوي وو او له حکومته يې د هغو بمباريو د بندېدلو غوښتنه کړې، چې له امله يې ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوړي.

ياد کسان د هلمند د ولايتي شورا په تالار کې راټول شوي وو او په سنګين ولسوالۍ کې يې د وروستيو عملياتو، چې له کبله يې لسګونو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې، د ژر تر ژره بندېدو غوښتنه کړې ده.

د هلمند د ولايتي شورا وکيلانو هم د دغو عملياتو چې له کبله يې تر ډېره ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي، د ژر تر ژره بندېدو غوښتنه کړې او هغه يې د بشري حقونو د ټولو اعلاميو خلاف بللي دي.

د هلمند د ولايتي شورا مشر عطاالله افغان ويلي، د سنګين ولسوالۍ د وروستيو پېښو د ملکي مرګ ژوبلې شمېرې دې دقيقې شي او ژر تر ژره يې د عاملينو ته سزا ورکړل شي. نوموړي زياته کړه: «له ولسمشر څخه مو غوښتنه دا ده چې دغه حالات نور موږ ته د زغملو نه دي. د دفاع او کورنيو چارو له وزيرانو څخه مو غوښتنه دا ده چې موږ نور په سنګين کې روان حالات په اوږو نه شو وړلی. په سنګين کې په تېرو دوو مياشتو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون تقريباً ديرش ملکي وګړي وژل شوي دي.»

د دغه ولايت د ولايتي شورا غړو دغه راز ويلي، دوی ته په تېره يوه مياشت کې نږدې ۷۰۰ کسانو مراجعه کړې چې په جګړو او هوايي بريدونو کې يې کورونه وران شوي دي.



دا په داسې حال کې ده چې د روانې اونۍ په پيل کې د هلمند په سنګين ولسوالۍ کې د عملياتو پرمهال، ډېر ملکي کسان ووژل شول او ځينې نور ټپيان شول، خو د هلمند سيمه ييزو چارواکو بيا دغه راپورونه رد کړي او ويلي يې دي چې په دغو عملياتو کې وسله وال طالبان په نښه شوي چې د هغوی د سوق او ادارې ډېرې مرکزونه يې هم له منځه وړي دي.

## نتانياهو: د وارسا په ناسته کې به ايران د بحث لومړۍ موضوع وي

د اسرائيلو د بهرنيو چارو وزير، بنيامين نتانياهو د دغه هېواد پارلمان ته ويلي چې د وارسا په ناسته کې به ايران د بحث لومړنۍ موضوع وي.

نوموړي زياته کړې: «په روانه اونۍ کې به د وارسا په ناسته کې ګډون وکړم او هلته به د متحده ايالتونو له مرستيال ولسمشر مايک پنس او بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو سره هم وګورم او د دې ترڅنګ به په دې ناسته کې ايران د بحث د سر موضوع وي.»

د نوموړي په خبره، په سيمه کې د ايران د اقداماتو له منځه وړل او له اټومي وسلو څخه د دغه هېواد منع کول، هغه مهم موارد دي چې په دې ناسته کې به پرې بحث او خبرې وشي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم اسرائيلي رسنيو راپور ورکړی و چې د دغه هېواد لومړی وزير به د وارسا په ناسته کې، چې د روانې مياشتې په ۱۳مه او ۱۴مه د پولنډ په پلازمېنه کې جوړه شي، ګډون وکړي.

تر دې يوه مياشت وړاندې د متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزير، مايک پامپيو له فاکس نيوز سره په مرکه کې د دې ناستې د جوړېدو خبر ورکړی و. نوموړي ويلي وو چې په دغه ناسته کې به د ډېرو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيران ګډون وکړي. د نوموړي په خبره، ايران او ځينې نورې مهمې نړيوالې مسئلې به د دې ناستې د بحث اجنډا وي.



د يادونې ده چې په دې ناسته کې چې د پولنډ په پلازمېنه وارسا کې ترسره کېږي، پر اسرائيلو سربېره د منځنې ختيځ ځينې نور هېوادونه لکه سعودي عرب، امارات، کويټ او عمان به هم ګډون وکړي.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### څلورم څپرکی
### لوی فکر به څنگه کوو؟




نو له نن وروسته هڅه وکړئ چې لویو موخو ته به گورئ.

۲) ځان وپوښتئ چې: (په دې ارزي؟) له منفي احساساتو مخکې یو ځل له ځانه پوښتنه وکړئ چې: (آیا په دې ارزي؟) له وړو مسایلو د ځان خلاصولو لپاره دا تر ټولو ښه درمل دي. که موږ په سختو شرایطو کې یوازې له ځانه دا پوښتنه وکړو چې (په دې ارزي که نه؟) نو د نوي سلنه شخړو او دعوو مخه به مو نیولې وي.

۳) د وړو موضوعات په دام کې مه نښلئ. د وینا، ستونزو د حل، له کارکوونکو سره د مشورې او نور... کې په هغو موضوعاتو فکر کوئ چې مهم وي او د فکر ارزښت لري، ځان په وړو مسایلو کې مه بندوئ، په مهمو شیانو تمرکز وکړئ.

د خپل فکر تللو لپاره دا ازمېښت وکړئ

لاندې په ښي لاس ستنه کې څو عادي حالاتونه ښودل شوي دي. په منځ او کیڼ (چپ) لاس خانو کې بیا دا ښودل شوي چې د واړه او لوی فکر خاوندان دې حالاتو ته څنگه گوري. ځان وازمایئ او پرېکړه وکړئ چې څه باید وکړئ (لوی فکر) که (کوچنی فکر)؟ یوه حالت ته له دوو بېلابېلو زاویو کتلای شو، نوره مو خوښه.

| حالت | کوچنی فکر | لوی فکر |
|---|---|---|
| لگښت | داسې لارو پسې گرځي چې د لگښتونو په کمولو خپل عاید لوړ کړي. | داسې لارو پسې گرځي چې د مالونو په خرڅولو خپل عاید لوړ کړي. |
| خبرې | د خپلو ملگرو، د شرکت د اقتصادي شرایطو او سیالانو په منفي اړخونو غږیږي. | د خپلو ملگرو، شرکت او سیالانو په مثبتو اړخونو غږیږي. |
| پرمختگ | مزل ورو کوي یا په پخواني حالت کې خوشاله وي. | په پراختیا باور لري او کار پراخوي. |
| راتلونکی | راتلونکی تنگ او تیاره ویني. | راتلونکی روښانه او هیله ښونکې ویني. |
| کار | له کاره د تېښتې لارې لټوي. | نورو سره مرستې او د ډېر کار لپاره لارې چارې لټوي. |
| سیالي | عادي (متوسطو) خلکو سره سیالي کوي. | غوره خلکو سره سیالي کوي. |
| بې خرڅي | د پیسو لپاره اړین توکي پلوري | هڅه کوي چې عاید لوړ کړي او نور اړین توکي واخلي. |
| موخې | کوچنۍ موخې ټاکي | لویې موخې ټاکي |
| ارمان | .لنډه منډه کوي، واړه ارمانونه لري | لوی ارمانونه لري، اوږدمهاله مسائلو ته گوري. |
| خوندیتوب | تل ورسره د ځان ساتنې او امنیت غم وي. | خطر او برې یو بل سره تړلې بولي. |
| راشه درشه | د واړه فکر له خاوندانو سره راشه درشه کوي. | د لوی فکر او د پرمختگ لرونکو مفکورو له خلکو سره ناسته پاسته کوي. |
| تېروتنې | وړو تېروتنو پسې گرځي او لویې کیسې ترې جوړوي. | په وړو تېروتنو سترگې پټوي. |

یاد ساتئ چې له هره اړخه لوی فکر کولای شئ!

۱. ځان ټیټ مه بولئ، د ځان سپکولو جرم پرېږدئ. په خپلو شتمنیو تمرکز وکړئ. ته چې ځان څومره گڼې، تر هغه ډېر ښه یې.

۲. د لوی فکر د خاوندانو په څېر خبرې کوئ. لویې، روښانه او خوندورې کلیمې کاروئ. داسې کلیمې کاروئ چې د برې، هیلې، خوند او خوشالۍ تضمین وي. هغه کلیمې پرېږدئ چې د ماتې، غم او خپگان بې خونده حالات انځوري.

۳. لیدلوری مو پراخه کړئ. یوازې دا مه گورئ چې څه څنگه دي، بلکې دا گورئ چې څنگه کېدای شي؟

٤. کار ته په لویه سترگه وگورئ. فکر وکړئ او په رښتیا فکر وکړئ چې ستاسې اوسنی کار مهم دی. راتلونکې برې په دې پورې اړه لري چې تاسې خپل اوسني کار ته څنگه گورئ.

٥. له عادي مسایلو لوړ فکر وکړئ. په لویو موخو تمرکز وکړئ. په وړو مسایلو کې له ښتو وړاندې له ځانه پوښتنه وکړئ چې: (په دې ارزي؟)

**په لوی فکر لوی شئ!** **دوام لري...**

# کریباتي

حشمت الله نوري

کریباتي د استرالیا لویې وچې او د ارام سمندر په منځنۍ برخه کې د ناورو او سلیمان د ټاپوگانو ختیځ لوري ته د لوېدیځ طول البلدونو د ۱٦۸ او ۱۸۰ درجو او د شمالي عرض البلدونو د ۱۲ او جنوبي عرض البلدونو د دوو درجو ترمنځ موقعیت لري.

د ۳۱۳ کیلومتره مربع پراخوالي په درلودو سره د نړۍ ۱۸۷م لوی هېواد دی.

کریباتي شمال ته له مارشال او هولنډ ټاپوگانو، جنوب ته د کوک ساموا او وانواتو له ټاپوگانو، ختیځ ته د مارکیزاس ټاپو او لوېدیځ ته د سلیمان له ټاپو سره گډه پوله لري.

د دغه هېواد هوا په عمومي توگه توده او لنده ده او سمندري توپانونه یې له اعتدال سره مرسته کوي. ځینې شمال ختیځې برخې یې د مارچ او اکتوبر په میاشتو کې نرمه او له نومبر څخه تر فبرورۍ پورې توده هوا لري او هر کال په دغه هېواد کې ۳۰۰۰ ملي متره اورښت کېږي.

کریباتي د ۳۳ میکرونیزیایي لویو او کوچنیو ټاپوگانو داسې ټولگه ده، چې ټول د ارام سمندر په اوبو کې خواره واره پراته دي چې له دې ډلې یې ۲۰ د استوگنې وړ دي.

د دغه هېواد پلازمېنه د تاراوا ښار دی او نفوس یې

څه باندې سلو زرو کسانو ته رسېږي چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۲٦ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد ۵۰ سلنه وگړي په ښارونو او ۵۰ سلنه په کلیو او بانډو کې ژوند کوي، چې هره کورنۍ یې د قانون له مخې په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

رسمي ژبه یې کریباتي او انگلیسي ده او لیکدود یې بیا لاتیني دی.

دغه هېواد د اداري وېش له پلوه په دریو برخو او شپږو ولسوالیو وېشل شوی دی.

د کریباتي د حکومت ډول جمهوري او اساسي قانون یې د ۱۹۷۹ ز کال د جولای په ۱۲مه نافذ شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر تانیتي مامو دی چې د لومړي وزارت دنده هم پرمخ بیایي.

د دغه هېواد وزیران او لوی څارنوال ټول د ولسي جرگې د غړو له منځ څخه د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي چې کابینه یې ټول ټال ۱۲ وزیران لري.

د کریباتي ولسمشر د دغه هېواد د ولسي جرگې د غړو کاندیدانو له منځ څخه د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي او د قانون له مخې دوه ځلې کار کولای شي.

د دغه هېواد ولسي جرگه ٤٦ غړي لري چې ٤٤ کسان یې د خلکو په خوښه، یو د جلا وطنه کیریباتیانو په استازیتوب او یو د بانابا ټاپو د خلکو د استازي په توگه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د استیناف محکمه د دغه هېواد لوی قضایي سیستم جوړوي. د کریباتي د ټولو محکمو مشران او قاضیان د کابینې په مشوره، د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي.

که چېرته د کومې ستونزې د څېړلو په وخت کې د کریباتي قوانین د حلالر ونه لري، د انگلستان له قوانینو څخه گټه اخیستلای شي.

د ۱۹۷۹ ز کال د جولای په ۱۲مه یې له انگلستان څخه خپلواکي اخیستې او هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځ په نوم پکې نمانځل کېږي.

له ۳۳ ډېرنیو ټاپوگانو څخه جوړ شوی دغه ډېر لري پروت هېواد لږ طبیعي شتمني لري او د پاسفیک له ډېرو وروسته پاتې هېوادونو څخه شمېرل کېږي. د کریباتي د فاسفیټو د یادولو وړ زېرمې تر ۱۹۷۹ ز کال یا له انگلستان څخه د دغه هېواد د خپلواکۍ تر وخته پورې پای ته رسېدلي وې. د ناریال زړي او کبان اوس اوس د دغه هېواد د یادولو وړ تولیدي او صادراتي مالونه دي چې په دې وروستیو کې یې اقتصاد ډېر څپاند شوی او پرمختگ یې د ماهرو کارگرانو د لږوالي کمزوري اقتصادي جوړښت او له نړیوالو مارکیټونو څخه د لرې والي له امله له سختو ستونزو سره مخامخ دی.

د کریباتي تمویلي سکټور او خصوصي پانگه اچونه د خپلې ودې لومړني پړاوونه وهي او د اقتصاد د نا دولتي برخې له پیاوړتیا سره مرسته کوي.

بهرنۍ مالي مرستې چې له انگلستان، اروپایي اتحادیې، امریکا، استرالیا، نوي زیلنډ، کاناډا، جاپان او ملگرو ملتونو څخه راځي، په دې وروستیو کلونو کې د کریباتي د ناخالص کورني تولید له ۲۵ تر ۳۰ سلنه برخه جوړوي.

په بهر کې د دغه هېواد کارگران هر کال ٦ میلیون ډالره خپل هېواد ته استوي، دا کارگران په سمندرونو کې په سوداگریزو بېړیو کې کار کوي، په تېرو کلونو کې د کریباتي اقتصاد ښه وده کړې ده او دا ځکه چې له یوې خوا د ناریالو د زړیو نړیواله بیه ختلې وه او له بلې خوا دغه هېواد د کبانو د ښکار څو لایسنسونه په لوړه بیه خرڅ کړي وو.

دغه هېواد هر کال ۱۹ میلیون ډالره له هغه فنډ څخه تر لاسه کوي، چې استرالیا د پاسفیک د کوچنیو هېوادونو د ودې لپاره جوړ کړی دی،

خو اوس اوس د دغه هېواد اقتصاد ښه لور ته روان دی. د بنسټیزو پروژو په جوړولو او د غوره اقتصادي تگلارو په مټ به دغه هېواد ډېر ژر ښه پرمختگ وکړي.

د کریباتي ۴ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، ۳ سلنه یې ځنگلونو او ۴۵ سلنه یې ډېرینو غونډیو، ښارگوټو او کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد په څو ټاپوگانو کې د کرنې ځمکې شته، پاتې نور ټاپوگانو د ډېرین جوړښت له امله کرنې ته جوړ نه دي. د دغه هېواد ډېر خلک د کرنې او کبانو د نیونې په برخو کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۱ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دغه سکټور څخه لاس ته راځي. د ناریال زړي، ډوډۍ، تورمرچ، مېوې، سابه او څاروي د کریباتي په اقتصاد کې ښه رول لري. دغه هېواد څړځایونه نه لري، له همدې امله په دغه هېواد کې ډېر لږ څاروي روزل کېږي.

کبان د کریباتي په صادراتو کې ستره ونډه لري، د دغه هېواد دولت په جنوبي کوریا، جاپان، تایوان او په امریکا کې د کبانو د نیولو د لېسنسونو د خرڅلاو له مدرک څخه ښه عواید لري.

سره له دې چې د کریباتي دولت په خپلو ډېرو سیمو کې د سیلانیانو د لارښوونې دفترونه او ښکلي هوټلونه جوړ کړي، خو د سیلانیانو عواید د یادولو وړ ځای نه لري.

بنگله‌دیش، استرالیا، امریکا، جاپان، نوي زیلنډ، هانگ گانگ او چین د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي.

کریباتي ۲۵ هوایي ډگرونه لري چې ۱۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د دغه هېواد د ټلیفون کود نمبر ۰۰٦۸٦ او د انټرنېټ کود نمبر یې بیا کې ای دی چې ۱۰۰۰۰ زره کسان یې ورته لاسرسی لري.

دغه هېواد د ټلوېزیون یوې شبکې ترڅنگ، راډیوگانې هم لري چې خصوصي سکټور ته هم پکې ونډه ورکړل شوې ده.

د کریباتي له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۷ سلنه نارینه او ۹۳ سلنه ښځې په لیک او لوست پوهېږي.

تاریخي څېړنې ښیي چې د میکرونیزي نژاد خلک نژدې ۲۰۰۰ کاله د مخه د اوسني کریباتي په ځینو ټاپوگانو کې مېشت وو، په ۱٦۰٦ ز کال کې کیروس هغه لومړنی اروپایي سمندري سیلاني و چې د اوسني کریباتي ځینو برخو او د سلیمان او توالو ټاپوگانو ته تللی و. په ۱۷٦۴ ز کال کې انگلیسي گیلبرت دغه ټاپوگان لیدلي او هغه یې په خپل نامه نومولي دي. په ۱۸۲۰ ز کال کې یوه ډله روسان چې د سیمې د اوبو نقشې یې برابرولې، څه موده په کریباتي کې گرځېدلي دي، له دې څخه وروسته تر ۱۸۷۰ ز کال پورې د کریباتي د ځینو ټاپوگانو سمندري اوبه د نهنگانو د انگلیسي او امریکایي ښکارکوونکو له یرغلونو سره مخامخ وې، په ۱۸۵۷ ز کال کې مسیحي مبلغین او په ۱۸٦۰ ز کال کې د ناریالو سوداگر دې سیمې ته ورسېدل او هلته یې واړه واړه کلي جوړ کړل.

د ۱۹مې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د کریباتي او ځینو نورو ټاپوگانو نژدې ۱۰۰۰۰ وگړي د اروپایي شرکتونو لخوا د فیجي ساموا او منځنۍ امریکا ټاپوگانو ته د کار لپاره واستول شول او په دې توگه په دغو ټاپوگانو کې د مربیانو سوداگرې پیل او پیاوړې شوه.

په ۱۹۵۷ ز کال کې انگلستان په دغه سیمه کې خپلې اټومي ازمایښتي چاودنې او څېړنې پیل کړې او درې هایدروجني بمونه یې هلته وغورځول.

په ۱۹۷۱ ز کال کې د گیلبرت او الیس د ټاپوگانو اصلي اوسېدونکو د خپلې خاورې په اداره کې د گډون هڅه پیل کړه او یو ډول مشورتي جرگې یې په انگلیسانو ومنلې. همدا وخت دغه هېواد ته کورواکي ورکړل شوه. په ۱۹۷۵ ز کال کې گیلبرت یا اوسني کریباتي کورواکي واخیسته، دوه کاله وروسته گیلبرت د کریباتي په نامه د جلا خپلواکه دولت خاوند شو او د گډو گټو لرونکو هېوادونو غړیتوب یې تر لاسه کړ. په ۱۹۸۲ ز کال کې د کریباتي نوی اساسي قانون جوړ شو او د هېواد د مشورتي جرگې ۳۹ غړي د خلکو لخوا وټاکل شول، شپږ میاشتې وروسته د خپلواکه کریباتي لومړني ولسمشر هم د خلکو په خوښه خپل کار پیل کړ، ملگرو ملتونو په ۱۹۸٦ ز کال کې کریباتي د یوه خپلواکه هېواد په توگه په رسمیت وپېژاند او په ۱۹۹۹ ز کال کې یې د خپل عضویت غړیتوب هم ورکړ.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د کریباتي نوم نشته، نو داسې څرگندېږي چې دغه دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

له کابل څخه تر تاراوا ښار پورې د هوا له لارې واټن ۸٦۰۸ کیلومترو ته رسېږي او همدا راز دې دواړو ښارونو ترمنځ د وخت توپیر هم ۷:۳۰ ساعته دی.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| |
|---|
| $ ۷۴,۶۵ |
| € ۸۴,۷۰ |
| Rp. ۵۳۳ |
| ₹ ۱۰۶۰ |
| ¥ ۱۰,۹۰ |
| £ ۹۶,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 19:15 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| Kam Air | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| flydubai | |
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# دغه شیان په جاپان کې تېروتنه ګڼل کېږي

حمیدالله حمیدي

جاپان د نورو هېوادونو په پرتله ډېر ځانګړی او جالب کلتور لري، چې نوي ورتلونکي کسان يې په لیدو حیرانېږي. ډېری کسان کله چې دغه هېواد ته سفر کوي، له دغه کلتور او رواجونو نه وي خبر، خو که جاپان ته له ورتلو مخکې له دغو رواجونو ځان خبر کړئ، د اوسېدونکو لپاره به ښېخي حیرانوونکي او په زړه پورې وي. بله دا چې تاسو به د یوه با ادبه کس په توګه هغوی تر خپل اغېز لاندې راولئ.

**۱- د چاپسټیک کارول زده کړئ**

د غذا خوړلو لرګي، چې په انګلیسي کې ورته چاپسټیک وايي، که د غذا خوړلو لپاره ور څخه کار واخلی او کارول مو يې هم زده وي، جاپانیان ډېر پرې خوشالېږي. پام مو وي چې د غذا خوړلو لرګي په عمودي ډول په خوړو کې دننه نه کړئ، ځکه دغه څه په جاپان کې د مړي خښولو د مراسمو ښکارندويي کوي. د غذا خوړلو د لرګیو په وسیله بل چاته خواړه مه ورکوئ، خو کولی شی خپل ځان ته د بل چا له بشقاب څخه په همدغو لرګیو خواړه را واخلی. بل هغه څه چې په جاپان کې بې ادبي بلل کېږي، د غذا خوړلو د لرګیو پر بل باندې موښل دي چې دې مسئلې ته مو هم باید پام وي.

**۲- له بوټونو سره دننه مه ځئ**

که د کوم جاپاني کره دعوت شوي وی، نو کور ته له ننوتو سره سم مو خپل بوټونه په ټاکلي ځای کې وباسئ؛ ځکه په جاپان کې هغه بوټ چې تاسو يې په ښار او بازار کې کاروی، پاک نه بلل کېږي. له همدې کبله کور ته له ننوتو سره سم بوټونه ایستل کېږي او د کور له ځانګړو سرپایي ګانو څخه ګټه اخیستل کېږي. دغه څه تیار



د کوټې په مخکې اېښودل شوي وي. د جاپان په هوټلونو کې هم باید دغه څه په پام کې ونیسئ.

**۳- په کتار کې دربدل مو هېر نه شي**

جاپانیان په کتار کې د دربدو مینان دي او دغه څه د دوی لپاره مقدسه کړنه ده. ان که تاسو په بس کې پورته کېږی او یا هم د لېفټ په تمه وی. په تم ځایونو کې به مو ډېر لوی لوی کتارونه تر سترګو شي، چې خلک په اوږدو کتارونو کې د موټر، بس، مترو او نورو لپاره په تمه دي. دغه راز په بانک او نورو هغو ځایونو کې چې تاسو باید د یوه شي لپاره په تمه شی، باید په کتار کې ودرېږئ.

**۴- د تګ پر مهال له خوړو او څښاکه ډډه وکړئ**

جاپانیان معمولاً د تګ پر مهال نه څه خوري او نه څه څښي. هغوی فسټ بوډ یا تیار شوي خواړه هم په ولاړه خوري او یا هم د سړک پر سر ور سره یوې خواته کېږي. دوی چې کله اوبه او یا نور څښاک د لارې پر سر له پلورنځیو اخلي، همالته يې څښي، بوتل يې په کثافت دانۍ کې اچوي او بیا وروسته حرکت کوي. دغه راز په مترو، موټر او بس کې د شیانو خوړل او څښل د دوی د ټولنیزو کړنو خلاف عمل دی، خو په اوږدو سفرونو کې بیا دغه څه استثنا دي.

**۵- په عمومي ځایونو او ګڼه ګوڼه کې خپله پوزه باید خالي نه کړئ**

په عمومي ځایونو او ګڼه ګوڼه کې د پوزې پاکول او خالي کول په جاپان کې تر ټولو ستره بې ادبي ده. په اصل کې دغه څه نه یوازې په جاپان، بلکې په ټوله نړۍ کې ښه کار نه دی او یو ډول بې ادبي ده. په جاپان کې پر پوزه د ماسک بسته کولو مانا دا ده چې هغوی ریزش دي او نه غواړي زیان يې نورو ته ورسېږي.

**۶- چاته بخششي مه ورکوئ**

په امریکا او ځینو نورو هېوادونو کې ټکسي چلوونکو او یا هم د رسټورانټ ګارسون ته بخششي ورکول لازمي دي، خو په جاپان کې بیا دغه څه د هغوی لپاره لوی توهین بلل کېږي، نو که جاپان ته لاړی، دې مسئلې ته مو پام وي چې د هغوی له ښه چلند سره سره ورته څه بخشش ورنه کړئ.

**۷- په لوړ غږ په ټلیفون کې خبرې مه کوئ**

جاپانیان په عمومي ځایونو کې په خپلو ټلیفونونو کې ورو خبرې کوي او هڅه کوي، خپلې خبرې څومره چې کېدای شي، لنډې يې کړي. دوی د سپرلۍ پر مهال د غوږیو له لارې سندرې اوري، ویډیو ګانې ګوري او یا هم مطالعه کوي، خو ډېر کم کسان بیا په ټلیفون کې خبرې کوي.

**۸- د ګوتې په وسیله چاته اشاره مه کوئ**

شیانو او خلکو ته د ګوتې په وسیله اشاره کول د جاپانیانو لپاره بې ادبي بلل کېږي. که غواړئ یوه کس او یا هم یوه شي ته اشاره وکړئ، باید خپل ټول لاس ور اوږد کړئ، خو که غواړئ خپل ځان ته اشاره وکړئ، نو خپله بټه ګوته به پر پوزه ږدی. بټه ګوته پر پوزه اېښودل په دې مانا دي چې تاسو د خپل ځان په اړه یو څه وایاست یا ورته اشاره کوئ.

**۹- په یوه لاس شی مه را اخلئ**

په جاپان کې په یوه لاس د شیانو اخیستل عیب او بې ادبي ګڼل کېږي. ان که ډېر واړه شی هم وي لکه وېزیټ کارت او نور باید په دواړو لاسونو در پورته کړئ. کله چې په دوکان او یا مغازه کې څه شی پېری، نو د دې پر ځای چې په مستقیم ډول پلورونکي ته پیسې ورکړی، باید پیسې په ځانګړې توکي کې چې معمولاً د مېز پر سر اېښې وي، ورته کېږدئ.

**۱۰- خپله ځان ته اوبه او یا نور څښاک مه اچوئ**

کله چې له ملګرو سره پر یوه مېز ناست وی او ګیلاس مو خالي کېږي، نو خپل ځان ته باید ګیلاس ډک نه کړئ. که مو د ملګرو ګیلاس خالي وي، تاسو باید د هغه ګیلاس ور ډک کړئ. کله چې ستاسو ګیلاس خالي کېږي، نو ډاډه کېنئ؛ ځکه په جاپان کې دا ستاسو د ملګري دنده ده چې ژر مو ګیلاس درته ډک کړي. پام مو وي چې د ګیلاس ډکولو پر مهال له دواړو لاسونو کار واخلئ.

## ولسي جرګه: ارګ او سپېدار باید د ملي مسایلو په اړه یو نظر ولري

د ولسي جرګې ځینو غړو په ملي مسایلو کې د ولسمشرۍ ماڼۍ او د اجرایه ریاست ترمنځ د یووالي غوښتنه کړې او ویلي يې دي چې په ملي مسایلو کې نه باید د ګاونډیو هېوادونو ګټې تر خپلو ملي ګټو پورته وګڼل شي.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر وروسته، د ملي یووالي حکومت د اجرایه ریاست ویاند هم د پښتون ژغورنې غورځنګ په اړه د افغان ولسمشر ټوېټ د پاکستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې په معنا وباله.

ولسمشر غني د تېرې پنجشنبې په ورځ په یوه ټوېټ کې په خیبر پښتونخوا کې د پښتون ژغورنې غورځنګ پر غړو د پاکستان حکومت له خوا د تاوتریخوالي ډک چلند په وړاندې اندېښنه ښودلې وه.




د اجرایه ریاست ویاند مجیب الرحمن رحیمي له طلوع نیوز سره په مرکه کې ویلي، چې دا ډول مسایل باید د افغانستان لپاره په لومړیتوبونو کې نه وي، ځکه افغانستان خپله له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی.

په ورته وخت کې د ولسي جرګې د بهرنیو چارو کمېسیون غړې ارین یون بیا ویلي، د ملي یووالي حکومت مشرانو ته پکار دي چې د ملي مسایلو په اړه یو واحد نظر ولري.

اغلې یون امریکا غږ ته ویلي چې د ملي یووالي حکومت له پیل نه تر دامهاله، د ارګ او سپېدار ترمنځ اختلافونو افغانستان د ناورین لور ته بوولی دی.

یون زیاته کړې: «موږ ولسونو تل دا نظر لاره چې په افغانستان کې یو مرکزي حکومت وي. مرکزي ټکی باید یو واوسي، قدرت باید د یوه کس له خوا مخې ته یوړل شي... که چېرې دغه وضعیت دوام وکړي، افغانستان نور هم د ستونزو خواته ورېږي، ولسمشر به یو نظر ورکوي او اجرایه ریاست به بل، چې فکر کوم د افغانستان د راتلونکو لپاره به يې پایلې ښې نه وي.»

دا په داسې حال کې ده چې د بشري حقونو نړیوال سازمان هم په دې وروستیو کې په پاکستان کې د پښتون ژغورنې غورځنګ د فعالینو پر وړاندې د پاکستان حکومت له تاوتریخوالي ډک چلند باندې اندېښنه ښودلې وه.

د یادونې ده چې د کورنیو چارو پخواني وزیر او په راتلونکو ټاکنو کې د ولسمشر غني لومړي مرستیال امرالله صالح هم په خیبر پښتونخوا کې د پښتون ژغورنې غورځنګ د غړو په اړه د ولسمشر غني له ټوېټ څخه ملاتړ کړی و.

## غني: په هېواد کې به ۴۰ کلنې وینې بهېدنې ته د پای ټکی ږدم

ولسمشر محمد اشرف غني د یکشنبې په ورځ د شینوارو لویې ولسوالۍ ته په ناڅاپي سفر لاړ او هلته يې د خبرو پر مهال ویلي چې اراده يې قوي ده او هڅه کوي چې په هېواد کې د ۴۰ کلنې جګړې له امله د وینې بهېدنې بهیر بند کړي.

له غني سره په دغه سفر کې د مشرانو جرګې، ملي امنیت او سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې رییسانو، د ملي امنیت سلاکار، ملي دفاع وزیر او ځینو نورو لوړپوړو چارواکو هم ملګرتیا کوله.

ولسمشر غني د سولې خبرو ته په اشارې ویلي چې دی سوله په کعبه شریفه کې غواړي، نه په مسکو کې. نوموړي ویلي، د سولې راتګ لپاره هر ډول قربانۍ ته چمتو دی، خو ټینګار يې کړی چې د ولسمشرۍ څوکۍ د ولس ده او په اړه يې پرېکړه هم یوازې د ولس کار دی.



دغه راز ولسمشر غني ننګرهار ته د خپل سفر پرمهال ویلي چې د شینوارو لویې ولسوالۍ ته يې د تلو موخه هم دا وه، چې د داعش پر ضد د دې سیمې او امنیتي ځواکونو څخه مننه او ستاینه وکړي.

نوموړي په خپلو خبرو کې د شینوارو له ولسونو سره ژمنه کړې چې د خلکو ړنګې شوې ودانۍ به ورته جوړې کړي.

له سیمې څخه باوري سرچینو ازادي راډیو ته ویلي چې د غونډې په پای کې د شینوارو ځوانانو مداخله کړې او غوښتل چې له ولسمشر څخه د شینوارو د ولایت جوړېدو ژمنه واخلي، خو د محلي پولیسو له مخالفت سره مخ شوي او غونډه په ګډوډۍ پای ته رسېدلې ده.

د ویلو ده چې دې غونډې ته رسنۍ هم نه وې غوښتل شوې او د غونډې په تړاو د ولسمشر ویناوې د ولایت مطبوعاتي دفتر لهخوا له رسنیو سره شریکې شوې دي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۱۱مه | دویم کال | ۳۳۳مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


## نړۍ



## نتانیاهو: د وارسا په ناسته کې به ایران د بحث لومړی موضوع وي


۳



CoAR 1989

هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

**اعلان داوطلبی**

موسسه هماهنگی کمک ها برای افغان‌ها (CoAR) به کمک مالی UNHCR تصمیم دارد که به مهاجرین متأثر از جنگ ولایت خوست، کیت های هایجین خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف، نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ ( 2019/2/11 ) الی ( 2019/02/21) به دست آورد.

و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (2019/02/21) به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱۶۷۶، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af

CoAR 1989

هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

**اعلان داوطلبی**

موسسه هماهنگی کمک ها برای افغان‌ها (CoAR) به کمک مالی UNHCR تصمیم دارد که به مهاجرین متأثر از جنگ ولایت خوست، دوحلقه چاه آب اشامیدنی جفر نماید. انعده شرکت های که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف، نموده شرطنامه را از سایت www. acbar.org.af از تاریخ ( 2019/2/11 ) الی ( 2019/02/21) به دست آورد.

و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (2019/02/21) به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱۶۷۶، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af


د افغانستان ختیځې سیمې د ویاړلو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له لوري ساتل کېږي. افغان ځواکونو په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د پراخو عملیاتو په پایله کې ډېر ترهګر وژلي او نیولي دي. موږ په افغانستان کې د سراسري سولې تر ټینګېدو د افغان ځواکونو تر څنګ ولاړ یوو، هماغسې چې دوی په مېړانه د ګواښونو پر وړاندې درېدلي دي.

مناطق شرق افغانستان توسط نیروهای با افتخار ملی دفاعی و امنیتی افغان محافظت می شود. نیروهای افغان با راه اندازی عملیات بیشتر در ولایت های ننگرهار و کنر، تروریستان زیادی را بازداشت و به قتل رساندند. ما برای تامین صلح سراسری در افغانستان در کنار نیروهای افغان ایستاده ایم، همانطور که آنان شجاعانه در برابر تهدیدات ایستادگی می کنند.





## افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه د خلکو د ساتنې لپاره!

## نیروهای ملی دفاعی و امنیتی افغان برای محافظت مردم!